۶۲
ملي هيلې اونيزه
هفته نامه
د ولس ريښتينې هيلې
شپږم کال
د ۱۳۹٦ لمريز کال د کب (حوت) د مياشتې لومړۍ نېټه

درنو ځوانانو!

پوهه او زده کړې خلاصون نه لري، کله چې يو ځوان ښوونځي ته ځي او يا پوهنتون ته ځي دا په دې مانا دی چې زمونږ په ټولنه کې اوس هم ډېر ځوانان شته چې له پوهې سره مينه لري کله چې تاسو ښوونځی او پوهنتون خلاص کړ نو ستاسې زده کړې پای ته نه دي رسېدلي او بايد دوام ورکړئ ځکه علم يو داسې سمندر دی چې پای نه لري نو پياوړی ځوان هغه څوک دی چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او خپلې ټولنې ته د پوهې له اړخه ګټه ورسوي.

په درنښت

الحاج محمداکبر ستانکزی

په ولسي جرګه کې د لوګر ولايت استازی





## د لوګـــر بڼوال د مميـــزو د وچولو خونې غواړي

د لوګر يو شمېر بڼوال غوښتنه کوي، چې په ياد ولايت کې دې د مميزو د وچولو خونې ډېرې شي. دوی زياتوي، که چيرې په لوګر کې د مميزو پاکول او وچول معياري شي، نو نه يوازې دا چې د مميزو د خرابيدو مخه به ونيول شي، بلکې بازار ته به يې عرضه هم څو برابره ډېره شي. بلخوا د لوګر د کرنې رياست چارواکي هم د انګورو د معياري پروسس پر اړتيا ټينګار کوي او وايي چې د انګورو د فصل پر مهال يې بيې لږې وي او بڼوال يې په خرڅولو کې د ګټې پر ځای تاوان کوي. په لوګر کې د باغداری او مالداری د ملي برنامې مسوول صفي الله ستانکزی وويل، چې يادې ادارې په وروستيو درېيو کلونو کې خواوشا اويا کشمش خانې يا د مميزو د وچولو خونې جوړې کړي دي. د ده په وينا هغه مميز چې له يادو خونو په لاس راځي، د هغو په پرتله چې ازاده هوا کې وچيږي د کيفيت له اړخه ښه او سوداګر يې هم ډېر دی. ښاغلی ستانکزی زياتوي د مميزو د وچولو په هره خونه څلور لکه ۴۵ زره افغانۍ لګښت شوی او اوه، اوه ټنه مميز ځايوي، چې څلويښت سلنه لګښت يې بڼوالو ورکړی دی... پاتې ۲ مخ



## دهاتن از فارغین دور دوم انستیتیوت علوم صحی کابل تک فراغت شانرا جشن گرفتند







انستیتیوت علوم صحی کابل تک برای دومین بار بیش از ۸۰ تن از جوانان ذکور و اناث را، از رشته های نرسنگ ، فارمسی ، قابلگی ، تکنالوژی طبی و پروتیز دندان سند فراغت داد و از آنان تقدیر کرد. در محفل که به همین مناسبت به تاریخ پنجم ماه دلو سال ۱۳۹٦ در تالار ستاره شب دایر گردیده بود برعلاوه ی الحاج محمد اکبر "ستانکزی" هیئت رهبری این انستیتیوت و نماینده منتخب مردم لوگر در شورای ملی ، ریس څارنوالی استیناف ولایت لوگر عبدالولی "خیری" ، وکیل "احمدی" ریس صحت عامه کابل ، عبدالرحیم "زیرک" دستیار ریس جمهور ، سهراب "الکوزی" مشاور ریس جمهور ، نماینده های ریاست انستیتیوت های خصوصی وزارت صحت عامه ، اساتید ، بزرگان و دها تن از اعضای خانواده های فارغین اشتراک ورزیده بودند ... ادامه صفحه ۲

## په لوګر کې د ناصرو قومي شورا رسماً پرانستل شوه







په لوګر ولايت کې د ناصرو قومي شورا ولايتي څانګې د يوې لويې غونډې په ترڅ کې خپل قومي فعاليتونه پيل کړل. په دې غونډه کې د لوګر محترم والي محمدحليم فدايي، د افغانستان د ناصرو قوم د سراسري شورا او د ولسمشر سلاکار نجيب الله ناصري، د لوګر د ولايتي شورا رييس حسيب الله ستانکزی، د لوکر د سرحدونو او قبايلو چارو رييس عبدالرحمن تسل، په لوګر کې د ناصرو قومي شورا رييس محمد غني ناصري او د لوګر د ناصرو قوم ګڼ شمير قومي مشرانو برخه اخيستې وه. دې غونډې ته د لوګر د سرحدونو او قبايلو چارو رييس عبدالرحمن تسل د قومي شورا ګانو د ايجاد په ارزښت خبرې وکړې او زياته يې کړه چې د ولس او ملت له فعال ګډون څخه پرته هيڅ اداره خپلو ټاکلو موخو ته نشي رسيدلی او نوموړي زياته کړه په داسې يو هيواد کې چې هغه له قومي جوړښتونو څخه جوړ وي او خلک يې هم همدې جوړښتونو ته ګروهمند وي نو پرته له دوی څخه هر ډول هڅه به ناکامه وي. د تسل په خبره شوراګانې په خپل ذات کې د ښې راتلونکې لپاره سلا مشورې دي او همدا مشورې کولای شي چې ډير سخت او اختلاف زيږونکي موضوعات حل کړي. د سرحدونو او قبايلو چارو رييس په خبره چې قومي شوراګانې دا فرصت برابروي چې قوم پر خپلو پرمختګونو باندې د پخوا په پرتله ډير ښه کار وکړ. دغه راز لوګر والي محمدحليم فدايي د قومونو په تړاو ارزښتمنې خبرې وکړې او زياته يې کړه چې قومي شوراګانې د تاريخ لومړنۍ فعالې مدني ټولنې دي او د قومي شوراګانو نقش د ملي يوالي په مسائلو کې فرضيه نه، بلکې دا به تاريخ کې ليکل کيږي. فدايي د لوګر له قومونو څخه ملاتړ خپل لومړيتوب ياد کړ ... پاتې ۲ مخ

### فرعون صایب!
### چی ره انتقال میتی که شیشه های موترت سیاه است ، نمبر پلیت نداری و تلاشی نمیتی!




این شعار با تصویر موتر شیشه سیاه پس از رویدادهای مرگبار در هوتل کانتیننتال و چهاراهی صدارت به دیوارهای کابل حک شده است و باشنده گان کابل از گشت و گذار و بررسی نشدن موترهای شیشه سیاه و بی نمبر پلیت کابل سخت نگران استند. فرید احمد یک باشنده کابل می گوید:"اگر مردم روی راست هستند باید تلاشی بدهند اگر واقعاً فساد ندارد." شهر کابل پس از رویدادهای خونین جنب و جوش خود را از دست داده و به یک شهر آرام مبدل گشته است، محمد نعیم تکسی ران صاحبان موترهای شیشه سیاه را در برابر مردم می خواند و از آیندهٔ نامعلوم کابلیان نگران است. آقای نعیم افزود:" به لحاظ خدا به لحاظ قران شیشه های موتر تان را پاک کنید که ما دوست و دشمن خود را بشناسیم." ... ادامه صفحه ۲

کـوثر
KAWSAR
KENGINEERING





شـرکـت انـجـینـری کـوثـر
KAWSAR ENGINEERRING PVT LTD



تولید کننده پایپ های پی وی سی، پی وی سی فتنگ،پی پی آر سی پایپ
پی پی آر سی فتنگ، اچ دی ای پی پایپ و پمپ های دستی با استندرد بین المللی
آدرس فابریکه: بگرامی، متصل تانگ تیل یوسفزی، کابل
شماره تماس: 0777-323424 - 0799-855512 - 0777-479999

## دهاتن از فارغین دور دوم...

الحاج محمداکبر "ستانکزی" هیئت رهبری این انستیتیوت و نماینده منتخب مردم لوگر در شورای ملی در آغازین برنامه جوانان را الگو و نماد وحدت ملی خوانده افزود که بدست آوردن علم مانند بحر است و نه تنها اینکه شما به این اندازه تحصیل نمودید بلکه کوشش نمایید تا سطح دوکتورا به تحصیلات خویش ادامه دهید. آقای "ستانکزی" فراغت این عده از جوانان را برایشان تبریک گفته و یاد آور شد که در راستای خدمت به وطن و مردم خویش کوشا باشید چرا که چشم و امید این ملت به سوی شماست. همچنان درین محفل سخنرانان باالنوبه ، سخنرانی نمودند و تلاش های انستیتیوت علوم صحی کابل تک را قابل ستایش دانستند. عبدالباقی "ستانکزی" ریس انستیتیوت علوم صحی کابل تک اظهار خرسندی نمود که توانسته است دومین دور از فارغینش را موفقانه به جامعه تقدیم می نمایند. وی افزود که آنان در راه آموزش خدمات صحی به مردم خویش دقت نموده و از هیچ نوع همکاری دریغ نخواهند ورزید. رئیس انستیتیوت کابل تک گفت که درین دور ۳۰ تن از طبقه اناث و ۵۰ تن از طبقه ذکور را از پنج بخش طبی فارغ داده اند که با این رقم تعداد فارغین این انستیتیوت از بدو تآسیس تا اکنون به ۱٦۰ تن رسیده است. قابل ذکر است که انستیتیوت علوم صحی کابل تک در سال ۱۳۹۳ بامجوز رسمی وزارت صحت عامه در کارته نو شهرکابل به فعالیت آغاز نمود و در بخش های علوم صحی تدریس می نمایند.

**مطیع الله "سرور"**

## د لوګر بڼوال د مميزو ...

نوموړی وايي په نوي کال کې د يو شمېر نورو دا ډول خونو جوړول هم په پام کې لري. په لوګر کې هغه بڼوال چې هغوی ته کشمش خانې جوړې شوي وايي، د پخوا په پرتله يې کار وبار ښه شوی دی. د معتصم بالله په نوم د لوګر د مرکز د پادخاب شانه د کلي اوسيدونکی وايي، پخوا به يې انګور په نامناسبو ځايونو او دبنتو کې پراته ول، چې پاکول يې ډېر ستونزمن وو، کچيرې پاک به وو، سوداګرو اخيستل او که پاک به نه وو، نو سوداګر يې نه لاره. د ده په وينا چې د کشمش خانو مميزپاک وي او دوی ته په ښه بيه خرڅيږي. د لوګر يو بل تن بڼوال حاجي ګلاب وايي، مخکې يې د حاصلاتو په موسم کې يو من انګور تر شپيتو افغانيو پورې خرڅيدل، خو اوس يو من مميز تر ۱۴۰۰ پورې هم خرڅ شوي دي، خو دا کشمش خانې کمې دي او حتی پنځه، شپږ سوو نورو ته ضرورت موجود دی. د لوګر د کرنې او مالداری رييس محمدالدين مومند وايي، د انګورو پروسس مهمه موضوع ده ځکه د انګورو د حاصلاتو په وخت کې يې بيې ډېرې ټيټې او بڼوالو ته په زيان وي. ده د کشمش خانو ارزښت ته په کتو ووېل، چې اوس بڼوال کولای شي، د خپلو مميزو حاصلات په مناسب وخت کې بازار ته عرضه کړي. محمدالدين مومند مني، چې روان لمريز کال کې د انګورو حاصلات د امراضو له کبله يو څه اندازه کم شوي ول، خو د نوي کال لپاره يې د حفاظه نباتي ټيم ته دنده ورکړې او په مخنيوي کې به يې پوره اقدامات کوي. لوګر د افغانستان د هغو ولايتونو څخه دی، چې ښه کرنيز پيداوار لري، د لوګر د مميزو په ګډون، انګور، منې، زردالو او نورې بيلابيلې ترکارۍ د خپل ښه کيفيت له کبله په افغانستان او پاکستان کې ښه بازار لري.

نجيب الله "الوخيل"

## فرعون صايب! ...

با این همه فرمانده عمومی گارنیزیون کابل هشدار می دهد که هیچ فرد یا گروهٔ پس از این نمی تواند با موتر شیشه سیاه و بی نمبر پلیت در داخل شهر گشت و گزار کند. افضل امان فرمانده عمومی گارنیزیون کابل گفت: "پس از این به هیچ فردی اجازه نمی دهیم از سلاح غیر قانونی و شیشه سیاه استفاده کنند." گارنیزیون کابل بر ادامهٔ جمع آوری سلاح های غیرقانونی و پاک کاری موترهای شیشه سیاه در کابل تأکید می ورزد اما از برخی اعضای شورای ملی نیز انتقاد می شود که در اجرای این برنامه با پولیس همکاری نکرده و خود قانون را نقض می کنند.

مصطفی "خیراندیش"

## په لوګر کې د ناصرو قومي شورا...

دغه راز د ناصرو سرتاسري قومي شورا رييس او د ولسمشر سلاکار نجيب الله ناصري هم له ټولو لوګر والو او د لوګر له چارواکو څخه منته وکړه چې د قومونو ملاتړ کوي د لوګر د ناصرو قومي شورا تازه خپل فعاليت پيل کړ او محمد غني ناصري يې د خپل مشر په توګه وټاکه. دا قومي شورا د لوګر د سرحدونو او قبايلو چارو رياست سره ثبت دی.

**د لوګرسرحدونو او قبايلو چارو رياست**

## پادخوابي: د لوګر اوسنی وضعيت ...

همداراز په دغې غونډه کې د لوګر ولايت د ځينو ادارو ريسانو سربيره د ولايتي شورا وکيلانو ، د ملي وحدت حکومت چارواکو او ددغه ولايت زرګونو تنو ځوانانو ، سپين ږيرو، مشرانو او د فارغ شويو محصلينو کورنيو غړيو برخه اخيستې وه چې ويناوالو يې د لوګريانو د يو لاس کيدو غوښتنه کوله. د يادونې وړ ده چې په هيواد کې د بيلابيلو پوهنتونونو څخه د لوګر ولايت د ۱۳۹٦ ه ش کال فارغ شويو محصلينو غونډه شاوخوا ۵۰۰ کسانو لپاره د پادخوابي بنست لخوا نيول شوې وه.

محمد عارف "ويسا"

## په لوګر کې ولسي تړون د ۸۸ شوراګانو لپاره عملي کارونه پيلوي

ولسي تړون په افغانستان کې يو ملي پروګرام دی چې د ملي پيوستون له بشپړېدو وروسته رامنځته شوی، دغه پروګرام رسماً د افغانستان د ولسمشر لخوا په ۲۰۱٦ کال کې پرانستل شو او عملي کارونه يې ولايتونو کې په ۲۰۱۷ کال کې پيل شوي دي.
په لوګر کې د ولسي تړون د ولايتي دفتر د مسؤلينو د مالوماتو له مخې ولسي تړون په خپل لومړي پړاو کې مرکز پل علم او خوښۍ ولسوالي تر پوښښ لاندې راولي چې ۳۰۴ شوراګانو ته به عملي کارونه ترسره شي. په لوګر کې د ولسي تړون ولايتي مسؤل انجنير ظفر خان وايي، په ۲۰۱۷ کال کې د ۳۰۴ پرمختيايي شوراګانو له ډلې ۸۰ شوراګانې د پروپوزل مرحلې ته رسېدلي او د پاتې شوراګانو لپاره کار روان دی. ظفر خان زياتوي، د ولسي تړون پرواګرام په لومړي پړاو کې ۳۰۴ شوراګانې تر پوښښ لاندې راځي، چې ۲۳۱ په پل علم او ۷۳ هغه يې په خوښۍ ولسوالۍ کې دي او لومړی پړاو به په ۲۰۲۰ کال کې پای ته ورسېږي. ظفر خان وړاندې وايي، په ۲۰۱۸ کال کې په پلان کې لري چې هغه ۸۰ شوراګانو ته د پروژو تطبيق پيل کړي چې پروپوزلونه يې جوړ شوي او د پاتې شوراګانو لپاره به له سره په کليو کې ټاکنې ترسره کېږي. په لوګر کې د ولسي تړون د دفتر مسؤل انجنير ظفر خان وايي، په لوګر کې ټول خلک د هغه پروژو غوښتنه کوي چې د ولسي تړون د پروګرامونو په چوکاټ کې دي، نوموړی وايي، له خلکو سره تر مشورو وروسته ورته څرګنده شوې چې د پاکو اوبو برابرول، د لمريزې برېښنا جوړول، د اوبو د کانالونو جوړلو او داسې نور د خلکو د اساسي غوښتنو او اړتياوو څخه دي چې دا ټول به د لوګر ټولو سيمو ته د ولسي تړون په دريو پړاوونو کې جوړ او د خلکو اړتياوو ته به مثبت ځواب وويل شي. د لوګر د مرکز د دادوخېلو د کلي اوسېدونکی محمد شريف صاحبزاده وايي، موږ په داسې سيمه کې اوسېږو چې له ډېرو آسانتياوو بې برخې يو او ډېر پروژو ته اړتيا لرو چې راته تطبيق شي، نوموړی د ولسي تړون پروګرام ډېر ګټور بولي او هيله لري چې په سيمه کې يې لارې جوړې شي او هم ورته برېښنا برابره شي. صاحبزاده زياتوي، د ولسي تړون پروګرامونه په سلو کې سل فيصده ګټور دي، زموږ په سيمه کې ولسي تړون يوه وياله جوړه کړې، چې د ځمکو د خړوبولو په برخه کې ډېره ګټوره ثابته شوې، پخوا به مو تر پټې پورې اوبه په دريو ساعتونو کې رارسېدلې مګر اوس په يوه ساعت کې رارسېږي. شريف صاحبزاده هيله څرګندوي چې د ولسي تړون ټولې پروژې به په متوازن ډول د لوګر په ټولو سيمو کې د خلکو د غوښتنې او اړتيا په اساس تطبيق شي. د لوګر د ولايتي شورا غړی محب الله صالح هم د ولسي تړون د پروګرامونو په اړه خوښي څرګندوي او وايي، د دغه پرواګرام د پروژو په تطبيق به د لوګر ولايت د خلکو په ژوند کې ډېر مثبت تغيرات رامنځته شي.
د پاکو اوبو، برېښنا، د ځمکو د خړوبولو لپاره د عصري کانالونو او داسې نورو آسانتياوو نشتون په لوګر کې د خلکو له سترو ستونزو څخه بلل کېږي، پدغه ولايت کې د ولسي تړون پروګرام خلک هيله من کړي چې يادې ستونزې يې هوارې او ژوند به يې د عصري کېدو خوا ته روان شي.

**حکمت الله "واقد"**

## ځان وږی کوو ، خو پوهنتون آباد وو!







د باران ميډيا ګروپ مشر مطيع الله سرور او د ګروپ غړو له لوګر پوهنتون څخه د ليدنې ترڅنګ د ځان وږی کوو خو پوهنتون آبادوو تر سرليک لاندې پروګرام سره مرسته وکړه. د لوګر پوهنتون ريس پوهنمل وحيد الله عبدالرحيم زي د وروستيو پرمختګونو او ستونزو په اړه د ياد ګروپ مشر ته معلومات ورکړل او د رسنيو همکارۍ يې پوهنتون سره اړينه ياده کړه. مطيع الله سرور د پوهنتون د ابادۍ په برخه کې د ياد پوهنتون د رهبري هڅې وستايلې او د لوګر پوهنتون کتابخانې سره د سل جلده مختلفو کتابونو او همداراز په پسرلي کې د نيالګيو مرستې ژمنه وکړه.

**نورمحمد "عابد"**

## د شهيدانو له ۱۱ کورنيو او ۸ تنو ټپيانو سره د يونيم ميليون افغانيو نغدي مرسته وشوه



د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اجرائيه رياست لخوا د پل علم او محمداغې ولسوالۍ د زرغون ښار په سيمه کې د وسله والو مخالفينو لخوا د ځای پرځای شوي ماين او په ځانمرګي بريد کې د شهيدانو د کورنيو او ټپيانو سره نغدي مرسته وشوه. ياده نغدي مرسته د لوګر ولايت مرستيال قمرالدين شکيب، د اجرائيه رياست سلاکارانو هدايت الله مصمم، جهش انصاراو د سيمه ييزو ارګانو د خپلواکې اداري استازي محمد شفيق مومند، د لوګر د کار، ټولنيزو ،شهيدانواو معلولينو رئيس شاه محمد وليزوی او مستوفيت کارکوونکو لخوا ۱۱ شهيدانو او ۸ ټپيانو ته ،چې د شهيدانو هرې کورنۍ ته يې سل زره او زخميانو ته يې پنځوس زره افغانۍ چې ټولې ۱۵۰۰۰۰۰ يونيم ميليون افغانۍ کيدلې ووېشل شوې . د يادونې وړ ده چې ټول قربانيانو د وسله والو مخالفينو لخوا د ماين په چاودنه او ځانمرګو بريدونو کې شهيدان او ټپيان شوي و.

**LMC**

## په لوګر ولايت کې د شلو ورزشي فدراسيونونو تر مينځ ازادې ټاکنې وشوې







د ټاکنو په دغو مراسمو کې د لوګر والي محمد حليم فدايي ، د ولايتي شورا رئيس حسيب الله ستانکزي ، د لوګر ولايت د ورزش آمر عبدالوليد ستانکزي ، د فدراسيونونو د انتخاباتو مشر ډاکټر عبدالفتاح رحيمي ، د ورزش رياست د هيئت رئيس ډاکټر روح الله الماس ، ګڼو ورزشکارانو او د رسنيو استازو ګډون کړی و. د لوګر والي ورزشکارانو ته په خبرو کې ووېل تاسې ورزشکارانو که نن په دغو ازادو ټاکنو کې خپل مقابل لوري ته ماته ورکړه يو بل ته د مبارکۍ غاړه ورکړئ ، تر څو همدا ټاکنې ستاسې د اتفاق ښکارندويې شي.وړاندې والي زياته کړه ورزشکار بايد غوسه نشي ورزشکار بايد حوصله ولري او هغه څوک چې جنګ ته مخه کوي د هغه منطق ختم شي نو پدې هيله چې تاسې د لوړې حوصلې څښتنان ووسئ.هغه زياته کړه په هغو ځايونو کې چې تاسې لوبې کوی هغه بايد د خپل کور په شان پاک وساتی. والي د خپلو خبرو په دوا م ووېل تاسې ورزشکاران بايد د ورزش تر څنګ د سولې سفيران ووسئ . که چېرته له افغانسان سره مينه لری او افغنستان خپل کور ګڼی بايد د خپلې مور غونډې يې ساتنه او حفاظت وکړئ. له يادو ازادو ټاکنو وروسته محمد خالد ستانکزی د باتوراندود فدراسيون مشر، سيد نجيب الله هاشمي د ووشو فدارسيون مشر ، رحم الدين خيرخواه د بايسکل ځغلولو فدارسيون مشر ، عبدالرحم عالم خېل د بوکسنګ فدارسيون مشر ، مسعود خيرخواه د اتلتيک فدراسيون مشر ، قاري محمد نائب مهمند د واليبال دارسيون مشر ، احمد ولي اشرفي کونګ فوتوا مشر ، عبدالوهاب ستانکزی د موی تای فدارسيون مشر ، شکرالله فيضي د هندبان فدراسيون مشر ، بريالی نظرابي د پهلوانۍ فدارسيون مشر ، سيد مختار هاشمي د پرورش اندام فدارسيو مشر ، عبدالغفار کريمي د نشان زني فدراسيون مشر عبدالقهار هاشمي د کبډي فدراسيون مشر ، روح الله وطن مل د کاراتې فدراسيون مشر ، سيد افضل وزيري د تکواندوی فدراسيون مشر ، شريف الله ستانکزی د وزن اوچتولو فدراسيون مشر ، سميع الله وفا د وينام فدراسيون مشر ، محمد منصور عزيزي د کيک بوکس د فدارسيون د مشر په توګه د اکثريت رايو په اخيستلو سره اعلان شول. د ټاکنو په دغو مراسمو کې يو شمېر ورزشکارانو، د فدارسيونونو مشرانو ته د ولايت مقام تقدير نامې هم ورکړل شوې.

**LMC**



## لوګر کې د فعالو ځوانانو ټولنې لخوا سلګونو زده کوونکو ته وړیا ژمني کورسونه پیل شول.

د لوګر په مرکز پل علم کې د فعالو ځوانانو د ټولنې او د باران مېډیا ګروپ په ګډه همکارۍ سلکونو زده کوونکو ته د کمپیوټر، انګلیسي او ریاضي کورسونه پیل شول. د باران مېډیا ګروپ مشر مطیع الله سرور، د کورسونو د پیل په مراسمو کې وویل، ژمی د هغه زده کوونکو لپاره ښه فرصت دی چې غواړي د راتلونکي کال لپاره تیاري ونیسي او خپل درسونه ووایي، له همدې امله د فعالو ځوانانو ټولنې د لوګري ځوانانو د پوهنیزې سطحې د لوړولو پخاطر له ځو کلونو راهیسې هڅې پیل کړي او وياړي چې خپلو ولسونو ته د خدمت مصدر ګرځېدلي. د فعالو ځوانانو د ټولنې مرستیال احسان الله احساس وویل، چې راتلونکي کې دوی پلان لري تر څو د کانکور د چمتووالي پروګرام هم په لاره واچوي، هغه له نورو ځوانانو هم وغوښتل چې راشي په یادو کورسونو کې ګډون وکړي احساس وویل چې تر اوسه ۱۲۵ کسانو په روانو ژمنیو کورسونو کې نوم لیکنه کړې او لا هم دغه لړۍ روانه ده. لوګر هغه ولایت دی چې خلک یې له زده کړو سره ډېره مینه لري، خو د اقتصادي ستونزو له امله ډېر شمېر زده کوونکي له ژمنیو زده کړو بې برخې پاتې کېږي. د فعالو ځوانانو ټولنې ژمني وړیا ښوونیز مرکز هڅې مثبتې ؤ ارزول شوې د باران میډیا ګروپ مشر مطیع الله سرور او د فعالو ځوانانو ټولنې د ښوونیزې برخې مسؤل محمدآصف الهام له یاد ښوونیز مرکز څخه لیدنه وکړه. پدغه لیدنه کې د زده کونکو ستونزې واوریدل شوې او د خوښۍ ولسوالۍ زده کونکو سره ژمنه وشوه چې په یاده ولسوالۍ کې به ددغه ښوونیز مرکز څانګه پرانیستل شي. یاد وړیا ښوونیز مرکز تر اوسه ۲۲۰ تنه زده کوونکي لري چې په څلورو وختونو کې د ریاضیات ، کمپیوټر او انګلیسی برخو کې په وړیا توګه زده کونکو ته زدکړې ورکول کېږي.

---

هیئت رهبری انجمن جوانان فعال بتاریخ ۲۷ جدی سال ۱۳۹٦ هجری شمسی تحت ریاست محترم الحاج محمد اکبر "ستانکزی" رئیس انجمن و وکیل منتخب مردم لوگر درولسی جرگه تدویرجلسه داد جلسه با آیات چندی ازکلام الله مجید توسط محترم میرویس "شهاب" آغازگردید سپس محترم انجنیر طاهر احمد "یوسفزی" رئیس کمیته پلان وپالیسی انجمن ضمن خوش آمدید آجندای جلسه را بخوانش گرفت به تعقیب محترم عبدالرحیم "واحدی" معاون انجمن ازتأسیس نهاد الی اکنون فعالیتها، کارکردها ودست آوردهای خویش رابه جلسه ارائیه نمود. وی افزود نظربه مصروفیت های زیاد که دارد نمیتواند وظیفه خویش را بوجه احسن آن ادامه بدهد و ازسمت اش کناررفت درعوض به اساس مشوره شورای رهبری محترم احسان الله "احساس" به صفت معاون انجمن انتخاب گردید.متعاقباً مسئولین کمیته های مالی، دعوت وارتباطات پلان های کاری، کمیته سپورت پیشنهادات وکمیته علمی وارتقای ظرفیت گزارشات کاری خویش را به جلسه ارائیه نمودند وروسای کمیته باالنوبه ازکارکرد ها وفعالیت های آقای"واحدی"ستایش کردند وخواهان ادامه فعالیت های بیشترشان شدند. دراخیرالحاج محمداکبر"ستانکزی"بعدازاستماع گزارشات، پلانهای کاری وپیشنهادات فعالیتهای آقای"واحدی" را ستود وی افزود که منبعد آقای "واحدی" به صفت مشاورارشد انجمن باما همکار خواهد بود وهم چنان به مسئول کمیته معارف وتحصیلات عالی وظیفه سپرد که تا لست فارغین سال ۱۳۹٦ محصلین ولایت لوگر را ازتمام پوهنتون های کشوربخاطر تجلیل ازجشن فراغت شان درولایت لوگر ترتیب وبه جلسه بعدی ارائیه دارد.وبه کمیته سپورت هدایت داد که تالست نیازمندی های خویش را درجلسه بعدی بخوانش گیرند وجلسه به خوانش دوعایه خاتمه یافت.

همچنان جلسه شورای رهبری انجمن جوانان فعال روزپنجشنبه مورخ ۱۲ دلو سال ۱۳۹٦ ه ش تحت ریاست محترم احسان الله احساس معاون انجمن جوانان فعال دایر گردید جلسه با آیات کلام الله مجید توسط محترم عبدالمالک "ستانکزی" آغازگردید سپس صالح محمد"صدیقی" منشی دوم انجمن ضمن خوش آمدید به حاضرین مجلس اجندای جلسه را بخوانش گرفت. به تعقیب معاون کمیته سپورت محترم کامران "شفق" گزارش کاری خویش را به جلسه ارایه نمود بعدا منصور"احساس" معاون کمیته نظارت و ارزیابی پلان کاری خویش را به جلسه ارایه نمود به تعقیب ان محترم استاد جاوید"صدیقی" ریس فدراسیون فوتبال ولایت لوگر معلومات خود را راجع به سپورت ارایه نمود. دراخیر احسان الله"احساس"ضمن استماع نظریات و پلان کاری کمیته ها را ستود و به کمیته معارف و تحصیلات عالی وظیفه سپرد تا به پوهنتون های خصوصی تفاهم کرده و از ان طریق جوانان مشوق به تحصیل را با تخفیف ویژه معرفی نماید و جلسه به خوانش دوعایه خاتمه یافت .

کمیته فرهنگی انجمن جوانان فعال

## انجنیر ظفر خان: د ولسي تړون د پروژو په تطبیق کې د ولایتي شورا رول د ستایلو دی

ولایتي شورا عموماً د حکومت او محلي ادارو له فعالیتونو او په ولایت کې له پلې کېدونکو پروژو نظارت کوي تر څو د فساد مخه نیول شوي وي او پروژې په سم ډول سرته ورسېږي. دغه راز د ولایتي شورا غړي د سیمیزو مشرانو سره هم ښې اړیکې لري او د عامو خلکو د ستونزو په حل کولو کې له هغوی سره مرسته کوي. لوګر د افغاني ټولنې هغه برخه ده چې تر ډېره پکې دیني عالمان او قومي مخور د خلکو په منځ کې محبوبیت لري او له ډېر پخوا راهیسې قومي مشرانو او نفوذي شخصیتونو د ولسونو په منسجم کولو کې د پام وړ رول لوبولی دی چې ولایتي شورا هم له قومي مشرانو او مخورو جوړه شوې او رول یې په ټولنه کې اغېزمن تمامېدای شي. د لوګر ولایتي شورا ۹ څوکۍ لري چې ۷ یې نارینوو او ۲ هغه یې ښځو ته ځانګړې شوې دي، په دغه شورا کې ۹ کمېټې او ۷ سکتوره دي چې د هرې کمېټې په سر کې یو کس مسؤل دی او هره ورځ خپلې چارې سمبالوي خو ډېره مهمه برخه یې د نظارت او څارنې ده چې د انکشافي پروژو نه څارنه کوي او د زېربنا یوه کېټه هم لري چې یو وکیل یې مشري کوي او د دې کمېټې مسؤلیت هم ډېر مهم دی. د لوګر د ولایتي شورا غړی محب الله صالح وایي، د ولایتي شورا ټول غړي د خلکو په خوښه او د هغوی په رایه ټاکل شوي او تل یې د خلکو د ستونزو په حل کولو کې لازمې هڅې کړې دي، نوموړی زیاتوي، په ولایتي شورا کې اداري هیئت او نور غړي په ولایت کې د چارو د ښه ترسره کېدو لپاره ګړندۍ هڅې کوي. صالح له دولتي پروژو څخه د څارنې په برخه د ولایتي شورا رول مهم بولي او وایي، د دوی د څارنې په پایله کې په ډېرو برخو کې د فساد مخه نیول شوې او د ډېرو پروژو د کیفیت د ښه لپاره لازم ګامونه اخستل شوي دي. صالح په لوګر کې د ولسي تړون د پروژو په اړه خوشبین دی او هیله لري چې ولسي تړون به د خلکو ډېرې مهمې اړتیاوې لکه پاکې اوبه، برېښنا او کلیوالي لارې رفعه کړي او د خلکو په ژوند کې مثبت بدلونونه رامنځته کړي. په لوګر کې د ولسي تړون د ولایتي دفتر مشر انجنیر ظفر خان د ولایتي شورا له غړو خوښي څرګندوي چې د دوی له دفتر سره یې لازمې همکارۍ کړي، نوموړی وایي، د لوګر په لېرې پرتو سیمو کې له خلکو سره د اړیکو په ټینګولو او د پروژو د تطبیقولو په برخه کې ولایتي شورا ورسره ډېره مرسته کړې او د دغه شورا د څارنې او نظارت له امله د پروژو کیفیت نور هم ښه شوی. اوس وخت کې ولایتي شورا هغه یوازینی بنسټ دی چې عام خلک پرې باور کوي او خبرو ته یې غوږ نیسي، د نظر خاوندان له دولت نه غوښتنه کوي چې د خلکو او دولت تر منځ د اړیکو په ټینګولو کې له ولایتي شورا کار واخستل شي او د دغه شورا غړو ته ډېر رول ورکړل شي.

حکمت الله "واقد"

## د باران مېډیا ګروپ مشر او غړو یې په لوګر کې د وینې د ورکړې د دودولو په پار د وینې ورکولو کمپاین پیل کړ









د باران مېډیا ګروپ مشر مطیع الله سرور، وویل، په لوګر کې د وینې ورکولو فرهنګ په کافي اندازه ندی دود شوی او ډېری ناروغان چې وینې ته اړتیا ولري له ډېرو ستړیاوو او مادي لګښتونو وروسته وینه ترلاسه کوي، نوموړي وویل له همدې امله مو نن د وینې ورکولو کمپاین پیل کړ تر څو په لوګر کې وینه ورکول عام شي او خلک پدې وپوهېږي چې وینه ورکول نه یوازې روغتیا ته ګټه لري بلکه د هر مسلمان مسولیت دی چې د بل مسلمان ورور د ژوند په ژغورلو کې برخه واخلي. د لوګر د ولایتي روغتون مشر ډاکتر عاشق الله مجیدي د باران مېډیا ګروپ له مشر او غړو مننه وکړه او دا کار یې د ولایتي روغتون د ځان بسایني لپاره ستر ګام وباله، مجیدي وویل چې دوی تل د بېړنیو پېښو په وخت د وینې له کمښت سره مخ وي چې ولایتي روغتون نشي کولی د خپلو مراجعینو غوښتنو ته په وخت ځواب ووایي. مجیدي له ټول هېوادوالو غوښتنه وکړه چې ناروغانو ته وینه ورکړي او د خپلو هېوادوالو ژوند وژغوري.

دا په داسې حال کې ده چې په لوګر کې د وینې ورکول په عامه کچه ندي دود شوي او خلک فکر کوي چې وینه ورکول یې روغتیا ته زیان اړوي.

حکمت الله "واقد"

## لوګر د ملي امنیت ریاست لپاره نوی رئیس معرفي او د پخواني رئیس کارونه وستایل شو



د لوګر ولایت د ملي امنیت د نوي رئیس د پیژندنې په غونډه کې د ولایت والي محمد حلیم فدایي ، د ملي امنیت عمومي ریاست ولایتي مرستیال عبادالله عبادي ، ولایت مرستیال قمرالدین شکیب ، ولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزي ،د شورا غړو قسیم خوشیوال ، محمد ناصرغیرت ، محب الله صالح او قریب الله سادات ، د څلورمې پلې لوا قوموندان برید جنرال عبدالرازق صافي ، د ملي امنیت پخوانی رئیس غلام رباني ، ملي امنیت اوسني رئیس برید جنرال فیض الله سادات ، امنیت امر ایوب وردګ ،د کوچیانو قومي مشر حاجي سالم نعیم زوی ، قومي مشرانو او د ملي امنیت مسولینو ګډون کړی و. د نوي رئیس د پیژندنې په غونډه کې د لوګر والي د پخواني رئیس د یو نیم کال کارونه وستایل چې په لوګر ولایت کې یې ولسونو ته د امنیت په برخه کې کړي و ، والي په نظام کې تغیر اوتبدیل یو اصل یاد کړ او پخوانی ریس یې یو صادق او مخلص شخص یاد کړ او دده هغه مینه چې له ولس سره یې لرله وستایله ، والي تبدیلي یو نورماله پروسه یاده کړه خو مهمه داده چې پخواني رئیس په میراث کې ولس ته یو څه پرېښي چې هغه ښه او حسنه سلوک دي ، همدارنګه غلام رباني همیشه کوښښ دا وو چې ولس سره ښه سلوک وکړي ځکه جګړه د ولس د زړه په ترلاسه کولو سره ګټل کیږي نه په جنګ. والي وړاندې وویل لوګر د تاریخي شخصیتونو کور دی پر همدې اساس د امنیت پخواني ریس ملي امنیت د ټولو کور جوړ کړی وو ، والي د غونډې په پیل کې د ملي امنیت د کارکوونکي تلاوت ته په اشارې سره وویل لومړی چې کوم کس تلاوت وکړ داسې تلاوت به هغه څوک هم ونکړي چې د جهاد فتوا ورکوي همدارنګه همدا ریس و چې د ملي امنیت په ریاست کې د خپلو کار کوونکو لپاره یو ستر مسجد د عبادت لپاره جوړ کړ تر څو ولس ته وښایې چې تاسو د ملي امنیت سره همکاري کوۍ دا همکاري د خپلو دیني او ملي ارزښتونو د ساتوونکي ادارې سره همکاري ده او ملي امنیت د دیني ، اسلامي اوملي نوامیسو او ملي ګټو د ساتلو اداره ده. والي نوي ریس ته دښه راغلاست ترځنګ د کامیابۍ هیله وکړه او ده ته یې ډاډ ورکړ چې دلته ټول ملکي ، امنیتي او قضایي ارګانونو او ولایتي شورا ترمنځ ښه همغږي موجوده ده او ټول یو لید لري او مونږ ټول د همدې لید په اساس مخکې ځوچې ټول ددې هیواد عسکر یو خو لباس مو مختلف دی. والي د ټولو امنیتي ځواکونو لاسته راوړنې وستایلې او زیاته یې کړه دښمن په تیر کال کې په ټول قوت سره زمونږ یوه پوسته هم سقوط نکړه. ولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزي او غړي محمد ناصرغیرت هم د ملي امنیت د پخواني رئیس د کارونو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې غلام رباني خپله دنده په پوره ایمانداری سره پای ته ورسوله او د لوګر ولس به دده خدمتونه همیشه یادوي. د ملي امنیت د عمومي ریاست ولایتي مرستیال هم د پخواني رئیس د کارونه یادونه او ستاینه وکړه او د نوي رئیس په کاري تجربه یې رڼا واچوله چې نوموړی لدې پخوا د ننګرهار ، بلخ او میدان وردګو ولایتونو کې هم رئیس پاتې شویدی او ښه تجربه لري او د پخواني رئیس د تجربو څخه به هم استفاده کوو. ملي امنیت پخواني ریس په خپلو خبرو کې لومړی د ولایت له والي مننه وکړه چې همیشه یې زمونږ ملاتړ کړی او زمونږ ترمنځ یې قوي همغږي رامنځته کړې وه او بیایي د ټولو ملکي ، امنیتي ، قضایي ادارو او ولایتي شورا څخه مننه وکړه چې دوی سره همیشه همکاره پاتې شویدي او د ولس څخه یې ځانګړې مننه وکړه چې په تیرو دریو دورو کې یې همیشه دده همکاري کړې او ملا یې ور تړلی ده. د ملي امنیت نوي رئیس میر فیض الله سادات د افغان ولسشمر محمد اشرف غني او ملي امنیت د عمومي ریاست مننه وکړه چې په ده یې باور وکړ او د ملي امنیت رئیس په توګه یې وټاکلو او بیا یې ولس ته ډاډ ورکړ چې زما دروازه به همیشه د ولس په مخ خلاصه وي او د ولس په خدمت کې به یم. همدارنګه د ملي امنیت د عمومي ریاست د کدر او پرسونل ریس لخوا د نوي رئیس د مقررۍ مکتوب ولوسته چې پکې راغلي و برید جنرال میر فیض الله د میر عبدالله ځوی د ۳۲۳۳ حکم پر اساس د لوګر ولایت د ملي امنیت د رئیس په توګه وګمارل شو. د ملي امنیت پخواني رئیس ته د ولسمشر لخوا د خدمت مډال د لوګر والي او د ملي امنیت عمومي ریاست ولایتي مرستیال او نوور مشرانو لخوا ورته په سینه وځومبل شو. همدارنګه په یاده غونډه کې د ولایت مقام ،ولایتي شورا او قومي مشرانو لخوا پخواني رئیس ته تقدیر نامې او نورې ډالۍ هم ورکړل شوې په پای کې نوی رئیس رسما په خپله څوکۍ کېنول شو او په کار یې پیل وکړ.

LMC

62

Weekly
MELLI HELLI
6th year | 21 Feb 2018

به جز از سرمقاله مسولیت دیگر نوشته ها به نویسندگان آن بر میگردد.
ملي هيلي در ویرایش مطالب دست باز دارد.
ملي هيلي در بازتاب انتقادات ، پیشنهادات ، نظریات و طرح های سازنده و ملی ارج قایل است
آدرس در کابل: دارالامان روبروی شفاخانه کیور
آدرس در لوگر: جوار کمیسیون انتخابات رادیو پیوند ملی

د امتیاز څښتن: باران میډیا ګروپ
مسوول مدیر: مطیع الله سرور
کتنپلاوي: سیداجان احمدزی او محمد عارف ویسا
خبریالان: مصطفی خیراندیش ، محمد حفیظ ستانکزی
نور محمد عابد ، عبد الله عرب او رامین عباسی
چاپځای: سعادت مطبعه ، کابل
۰۷۴۴۰۱۰۳۳۳ - ۰۷۹۶۰۵۹۰۰۹
Facebook.com / ملي هيلي
melli_heliweekly@yahoo.com

# پادخوابي: د لوګر اوسنی وضعیت د منلو وړ ندی







په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازی د نړیوالو چارو کمیسیون رئیس او د پادخوابي ټولنیز بنسټ مشر الحاج زمرک پادخوابي وايي چې د لوګر اوسنی وضعیت ورته د منلو وړ ندی او په نوموړي ولایت کې داسې اشخاص استخدامیږي چې په څه نه پوهیږي او باید وړ او تکړه ځوانانو ته د کار زمینه برابره شي. نوموړي چې د زمرک پادخوابي ټولنیز بنسټ لخوا د هیواد له بیلابیلو پوهنتونونو څخه د لوګر ولایت د سږکال فارغ شویو محصلینو فراغت غونډې ته وینا کوله وویل زرګونه فارغ شوي محصلین لرو چې دنده نه لري او سلګونه محصلین موږ ته د دندې د لاسته راوړلو لپاره راځي. نوموړي دا هم وویل چې مونږ باید د داسې ځوانانو ملاتړ وکړو چې هغه استعداد ولري او له دولت څخه یې غوښتنه وکړه چې د لوګر فارغ شویو محصلینو ته د کار زمینه برابره کړي همداراز پادخوابي له هغو چارواکو چې د دولت په چوکاټ کې دولت سره خیانت کوي غوښتنه وکړه چې له دې کار څخه لاس واخلي او د هیواد د جوړولو ملاتړ وکړي... پاتې ۲ مخ

## انستیتوت علوم صحی کابل تک

## Kabul Tech Medical Institute

انستیتوت علوم صحی کابل تک افتخار دارد که در دو دور بیش از ۲۰۰ تن از طبقه اناث و ذکور را موفقانه فارغ داده است و آنان مصدر خدمت در بخش های صحی گردیده اند. اینک یکبار دیگر انستیتوت علوم صحی "کابل تک" در بخش های "پروتیز دندان ،تکنالوژی طبی ،التراسوند ،قابلگی عالی ،فارمسی عالی و نرسنگ عالی" برای سال ۱۳۹۷ محصل میپذیرد. حالا نماینده منتخب شما "الحاج محمد اکبر ستانکزی" با انستیتوت "کابل تک" به توافق رسیده است تا (۲۰۰) تن از جوانان ولایت لوگر را که از سوی آقای "ستانکزی" به انستیتوت متذکره معرفی میگردند ٪۸۰ تخفیف در فیس برای شان مدنظر گرفته شده است. انستیتوت علوم صحی کابل تک در آینده نزدیک با سعی و تلاش الحاج محمد اکبر ستانکزی و به کمک رئیس جمهور کشور ، به پوهنتون طبی کابل تک مبدل خواهد گردید. انستیتوت علوم صحی کابل تک با داشتن شفاخانهء مجهز ،لیلیه ، ترانسپورتیشن و کتابخانه مجهز در خدمت مردم علم دوست کشور قراردارد.




جهت معلومات بیشتر به این شماره به تماس شوید: 0700657587 -0787103669
آدرس انستیتوت: سرک دوم کارته نو کابل - افغانستان



## انستیتوت خصوصی تعلیمات مسلکی میرابدال بابا

انستیتوت تعلیمات مسلکی میر ابدال بابا، با امکانات وخدمات تحصیلی ذیل برای سال جدید تحصیلی ۱۳۹۷ هجری شمسی محصل می پذیرد.

### خدمات وتسهیلات:

تعمیر مناسب ،استندرد و معیاری
صنوف درسی معیاری مجهز با مواد ممد درسی
داشتن صنوف کمپیوتر مجهز با کمپیوتر های قابل دسترس محصلان
کتابخانه مجهز با ۵۰۰۰ جلد کتاب در رشته های مختلف
استادان مجرب وبا تجربه دارای سند تحصیلی ماستری ویا حداقل لسانس
تدویر سیمینار های علمی برای محصلان
تسهیلات لازم امنیتی
تخفیف ویژه برای فامیل های که بیشتر از سه نفر از یک فامیل در این نهاد ثبت نام می کنند
داشتن شورای علمی
داشتن دیپارتمنت های رشتوی مطابق به نصاب

### رشته های که در این انستیتوت ایجاد گردیده:

- کمپیوتر ساینس
- اقتصاد تجارت
- اداره منجمنت
- ژورنالیزم

اوقات درسی :
تایم اول :۶:۰۰ الی ۸:۳۰ صبح
تایم دوم: ۹:۰۰ صبح الی ۱۲:۰۰ ظهر
تایم سوم: ۱:۰۰ الی ۳:۰۰ بعد از ظهر
تایم چهارم : ۳:۰۰ الی ۶:۰۰ بعد الی ظهر

### شرایط پذیرش:

داشتن سند فراغت از صنف دوازدهم
داشتن نمرات سه ساله که از طرف ریاست معارف تایید گردیده باشد
خانه پری فورمه ها ی مخصوص انستیتوت تعلیمات مسلکی میرابدال بابا
کاپی تذکره باسه قطعه عکس
سپری نمودن امتحان کانکور

### فیس قابل پرداخت:

داخله (۵۰۰ افغانی )
فیس سمستر وار رشته های فوق ( اداره ومنجمنت ،اقتصاد وتجارت ژورنالیزم و کمپیوترساینس) ( ۶۰۰۰ افغانی )

آدرس: مرکز ولایت لوگر ،عقب شفاخانه نایب امین الله خان
شماره های تماس : ۰۷۴۷۳۴۶۹۹۸ ۰۷۷۲۰۰۷۲۷۸



## ما متفاوت می اندیشیم!

بحث های داغ و شنیدنی را از پیوندملی تعقیب نمایید همکاران ما با همت بلند نشان میدهند که با هزینه کم و ناچیز هم میشود، کار مفید و ارزشمندی را انجام داد. پیوند فراز و فرود های زیادی را پیموده و خوشبختانه موفقانه این راه را طی کرده و از حرکت نه ایستاده است.
رسانه دیروز ، امروز و فردا

## شرکت تجارتی وساختمانی
## فاروق ستانکزی



### دفاروق ستانکزي
### تجارتي او ساختماني شرکت

د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت وياړي چې د بيلا بيلو هيوادونو څخه د ډول ډول سمنټ ، قير او د ساختماني ماشين آلاتو په واردولو سره د هیواد والو په خدمت کې دی.

د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت د کیفیت او معیار نمونه

الحاج محمد حبيب ستانكزي
د فاروق ستانکزي د تجارتي او ساختماني شرکت رئیس

پته: کابل بګرامی حسین خیل
اړیکشمیره ۰۷۴۷۲۲۲۲۴۹




## لیسه عالی خصوصی افغان شهید فاروق ستانکزی

لیسه عالی خصوصی افغان شهید فاروق ستانکزی برای سال جدید تعلیمی ۱۳۹۷ هجری شمسی از صنف آمادگی الی دوازدهم با امکانات وتسهیلات ویژه آموزشی ذیل شاگرد می پذیرد.

### خدمات وتسهیلات:

تعمیر معیاری ،مستحکم ،پخته واساسی
صنف های معیاری درسی
استادان لیسانس وباتجربه در تمام مضمونها
تدریس مضامین به زبان های ملی وبین المللی
لابراتوار مجهز ومعیاری
کتابخانه مجهز با ۵۰۰۰ جلد کتاب
کمپیوتر لب مجهز باخدمات انترنیتی
تدریس تمام مضامین به صورت عملی و نظری از صنف آمادگی الی دوازدهم
مضمون های تقویتی (دینی، انگلیسی، کمپیوتر و مضامین ساینسی)
ترانسپورت مجهز در تمام ساحات تحت پوشش
ساحه تفریحی برای شاگردان
کانتین مجهز وصحی در داخل مکتب
بخش کمک های اولیه در داخل مکتب
وسایل اطفایه ضد حریق
تدویر جلسات ماهوارباوالدین شاگردان جهت بهبود برنامه های آموزشی ، بلند بردن سویه تعلیمی وحل مشکلات شاگردان

### فیس قابل پرداخت:

داخله (۵۰۰ افغانی )
فیس ماهانه (۸۰۰ افغانی )
فیس ترانسپورت نظر به ساحه اخذ میگردد

آدرس : مرکز ولایت لوگر، عقب شفاخانه نایب امین الله خان
شماره های تماس: ۰۷۷۲۰۰۷۲۷۸ - ۰۷۸۸۲۰۵۰۳۶

## دارالهدیٰ خصوصي عالي لیسه

یتیمانو لپاره وړیا دزده کړو امکانات
د کانکور آزموینه: ۳ د حوت ۱۳۹۶

هغه زده کوونکي چې پلرونه يې ژوندي دي
د مناسب فیس مقابل کې دزده کړو امکانات!



## آمادگی کانکور

داخله جریان لري

ترټولو ښه پانګه، صالح اولاد دی!

مناسب فیس

مرکز ولایت لوګر هوټی سفلی 0787 645 855